SMITTSKYDDSBLAD

Patientinformation

Hepatit B

Översättning till pashto

Version 2022-03-15

# B زېړی، د ناروغ لپاره معلومات او د کړنلارې قوانين

## د عفونت څخه د تحفظ ډاکټرانو له لورې د عفونت څخه د تحفظ پاڼه

**تاسې ولې دا معلومات ترلاسه کوئ؟**

د وينې معاينې دا په ډاګه کړې چې تاسې په B زيړي اخته ياست. په دې پاڼه کې د B زيړي په اړه معلومات شتون لري او دا چې هغه څوک چې دا تکليف لري نو بايد چې څه وکړي.

**B زېړی څه شی دی؟**

B زېړی يو داسې وايروس دی چې په ځيګر، وينه او د وجود په ځينو مايعاتو (لکه سپرم) کې پيدا کيږي. داسې کيداې شي چې په يو کس کې د ډېرې موده راهيسې B زېړی موجود وي پرته له دې چې دا پرې پوه شي. که څه هم يو کس علايم ونه لري خو بيا هم B زېړی ډېر ساري کيداې شي. که دا تکليف په انسان کې ډېر وخت پاتې شي نو ممکنه ده چې کس د ځيګر په ستونزه اخته شي.

**B زيړي باندې کس څرنګه اخته کيږي؟**

ډېر داسې کسان شته چې په B زيړي اخته دي. د روغتيا نړيوال سازمان په کال 2019 کې راښکاره کړل چې په نړۍ کې تقريباً 300 ميلونه وګړي په B زيړي اخته دي. په دوې کې ډېر هغه کسان وو چې د زېږېدو په وخت کې يې له خپلې مور څخه دا مرض موندلی. B زېړی هغه مهال هم بل ته انتقاليږي چې پرته له کنډومه جنسي اړيکه ټينګه شي. غير محفوظ شوې جنسي اړيکه لکه مهبل، مقعد يا خولې له لارې جنسي اړيکه هم کولی شي چې د B زيړي د انتقال لامل وګرځي. د B زيړي وايرس د وينې له لارې هم خپريږي که چيرې په B زيړي باندې اخته وينه ستاسې وينې د مخاطي پردې له لارې داخله شي د بيلګې په توګه د سترګو، پوزې يا خولې او يا هم د يو آزاد زخم له لارې. سره له دې دا ناروغي له دې لارې هم خپريدې شي چې يو څوک چې په مخدره توکو اخته وي خپله پيچکارۍ، د مخلوطولو کپ او خپل داسې نور سامان د ګډ استعمال لپاره نورو ته وړاندې کړي. B زيړی د ټولنيزو عادي ليدو له لارې نه خپريږي لکه غاړه ورکول، يو بل ښکلول يا د يو ګيلاس/قاب/کاشوغې د استعمال له لارې. او دا وايرس د وينې راوتل د پوټکي له پاسه او يا هم تشناب د استعمال له لارې هم نه خپريږي.

**ددې لپاره چې دا مرض نورو ته سرايت ونکړي، زه بايد څه وکړم؟**

تاسې بايد د **کړنو هغه قوانين** مراعت کړئ چې د ډاکټر له لورې تاسې ته توصيه شوي وي.

- کله مو چې ډاکټر د بيا ملاقات وخت درکړي، نو بايد چې هغې ته حاضر شئ.
- له هغه چا سره چې جنسي اړيکه نيسئ بايد چې ورته ووایاست چې تاسې په B زيړي باندې اخته ياست.
- که چيرې ستاسې جانب مقابل مصئون نه وي يعني دا چې مخکې په B زيړي باندې اخته شوی وي او يا دا چې د B زيړي ضد واکسين يې نه وي کړي نو د جنسي اړيکې په وخت بايد د تحفظ/کنډوم څخه کار واخلئ.
- کله چې تاسې د غاښونو کلينيک او يا کوم بل صحی کلينيک ته ځئ چيرته چې د هغه ځاې پرسونل ستاسې له وينې سره اړيکه پيدا کوي يعني له تاسې وينه اخلي او يا دا چې تاسې عمليات کيږئ، نو په داسې حال کې تاسې بايد هغو ته دا په ډاګه کړئ چې تاسې ,,د وينې په عفونت,, باندې اخته ياست.
- او همدا رنګه که چيرې غواړئ چې خالکوبي، وجود کې سوری، په غوږونو کې سوری او يا هم کومه بله درملنه کول غواړئ چې له پوټکي پکې د وينې تويدو خطر وي نو بايد مقابل ته وويل شي چې تاسې د ,, وينې عفونت,, لرئ.
- د ويښتانو خريلو ماشين او خولې د برس د مشترک استعمال څخه ډډه وکړئ.
- که چيرې ستاسې وينه د چا د پوټکي په زخم، سترګه، پوزه يا خولې لاړه شي نو تاسې بايد دا خبرتيا ورکړئ چې ستاسې وينه په B زيړي باندې ککړه ده. نو د نوموړي کس نه به غوښتنه وکړئ چې خپل دغه ځاې سمدست ووينځي. نو دغه نوموړی کس به ژر تر ژره له خپل صحي مرکز يا د وايرس کلينيک او يا هم له 1177 سره اړيکه ټينګه کړي ترڅو د B زيړي په ضد واکسين تر لاسه کړي.
- که چيرې تاسې له پيچکارۍ يا ستنو استفاده کوئ نو مهمه ده چې له نورو سره يې شريکه نکړئ. او دا رنګه بايد د نورو له مخلوط کونکو کپونو او نورو لوازمو څخه هم استفاده ونکړئ.
- تاسې نشئ کولی چې وينه، سپرم يا تخم اهداء کړئ.
- وجود د يوې عضوې اهداء او د پيوند لپاره ګڼډل ممکن چې په بعضو مواردو کې د قبولۍ وړ وي.
- که چيرې تاسې جنسي اړيکو شريک او يا د کورنۍ کوم غړی لرئ چې B زيړي ضد واکسينو ته اړتيار لري نو کولی شئ خپل ډاکټر ته خبر ورکړئ.

**د پاملرنې بعضې نکتې** هم شتون لري چې د هغې رعايتول د نورو د نه اخته کيدو لپاره ښې دي.

- په خپلو هر ډول زخمونو باندې حتماً کچ/پانسمان استعمال کړئ.
- که چيرې څوک له تاسې سره د زخم پانسمانولو کې مرسته کوي نو دغه نوموړی شخص بايد دستکشې استعمال کړي.
- هغه مواد چې وينه پرې پرته وي په کڅافاتو کې له اچولو مخکې بايد په سمه توګه وتړل شي.

- که چيرې مو جامې په وينو ککړې شي نو بايد چې د جامو په ماشين کې ووينځل شي.
- د وينې هغه داغونه چې په ځمکه پراته وي هغه پر يو وارمصرفو شيانو پاک کړي او هغه مواد ضايع کړئ. او هغه ځمکه بيا وروسته په اوبو او موادو ووينځل شي.

**خپل د ژوند ملګرې سره مخکې له جنسي اړيکې څه بايد وکړم؟**

تاسې بايد خپل مقابل ته وواياست چې تاسې B زيړی لرئ. که چيرې ستاسې شريک مصئون نه وي (يعنې په B زيړي باندې اخته وي او يا دا چې د B زيړي ضد واکسين يې نه وي اخيستي) نو بايد چې له کانډوم څخه کار واخلئ. ښه به دا وي چې خپل د ژوند ملګری مخکې د جنسي اړيکې څخه خپل صحي مرکز يا ډاکټر ته راولئ، ترڅو د B زيړي پر ضد مفت واکسين ترلاسه کړي.
که چيرې تاسې کوم کس د عفونت له خطر سره مخ کړی وي، د بيلګې په توګه له داسې يو کس سره مو پرته له کانډومه جنسي اړيکه نيولې وي چې واکسين شوی نه وي، نو دا کس کولی شي چې وروسته له دې په وړيا توګه د B زيړي واکسين ترلاسه کړي، ترڅو د عفونت خطر کم شي.

**يو څه وخت وروسته بايد د کانټرول په موخه خپل ډاکټر ته مراجعه وکړئ**

ډاکټر ته بيا د راتګ وخت ستاسې ډاکټر تعيينوي. عموماً ډاکټر ته تګ په کار کې يو ځل کيږي خو کله نا کله دا ليدل ژر ژر ترتيبيږي.

**آيا په B زيړي باندې ککړيدل خطرناک دي**

ډيري وګړي چې په B زيړي اخته وي د ځيګر په مشکلات نه اخته کيږي. خو ځينې داسې شته چې په عفونت باندې له اخته کيدو څو کاله وروسته د ځيګر په مشکل اخته کيږي. هغه کسان چې په دې مشکل اخته دي، که چيرې دا حالت خپل بدترين حالت ته ورسيږي نو کس ممکن په سيروز يا د ځيګر په سرطان اخته کيداي شي. کله چې تاسې په منظمه توګه له خپل ډاکټر سره ليدل کوئ نو ډاکټر مو ځيګر معاينه کوي او د ضرورت په وخت کې ستاسې د ځيګر تداوي پيلوي.

**آيا B زيړی درملنه لري؟**

د اړتيا پر مهال تاسې د درملنې لاندې نيول کيږئ، خو اکثر ناروغان په دې ناروغی کې درملنې ته اړتيا نلري. دا به ستاسې ډاکټر تعينوي چې آيا تاسې تداوی ته اړتيا لرئ او که نه.
درملنه نشي کولی چې دا ناروغي جوړه يا يې له منځه يوسي خو کولی شي چې د ځيګر مشکلات کم کړي.

**آيا زه اولاد راوړی شم؟**

هو! B زيړی د اولاد راوړو مخنيوی نه کوي. خو دا اړينه ده چې ستاسې جنسي شريک ماشوم له راوړو څخه مخکې د B زيړي واکسينو په مرسته مصئونه شوی وي. که چيرې حمل ونيسئ نو داسې لارې شته چې د B زيړي ويروس ماشوم ته د انتقاليدو مخنيوی کوي. امکان لري چې خپل د حمل په اخيري وختونو کې د B زيړي د تداوی لاندې ونيول شئ. نوی پيدا شوی ماشوم پرته له ځنډه د B زيړي واکسين ترلاسه کوي، ورسته بيا د يو کال په جريان کې د واکسينو نور ډوزونه ورته ورکول کيږي. نو ځکه په دې مرض د ماشوم د اخته کيدو امکان ډير کم دی. که چيرې ماشوم په منظمه توګه واکسينونه ترلاسه کړل نو مور کولی شي چې د معمول په حساب ماشوم ته خپلې شيدې هم ورکړي.

**آيا زه کولی شم چې هره دنده او يا د فارغه وخت فعاليتونه ترسره کړم؟**

څوک چې په B زيړي اخته وي هغه کولی شي چې هر ډول دنده ترسره کړي. که چيرې تاسې په داسې دنده کې ياست چې په هغې کې ستاسې د زخمي کيدو امکان وي او ددې امکان وي چې ستاسې وينه په بل چا ولويږي نو ددې په هکله خپل ډاکټر سره مشوره وکړئ. که چيرې تاسې په دې هم مطمئن نه ياست چې د يو خاص مسلک لپاره زده کړې کولی شئ نو همدا امر دلته هم صدق کوي. دا لازمه نده چې خپل د کار مشر ته دا وواياست چې تاسې په B زيړي باندې اخته ياست. که چيرې تاسې داسې کوم سپورټ کوئ چې په هغې کې امکان وي چې ستاسې وينه تويه شي نو دا موضوع هم خپل ډاکټر سره شريکه کړئ، ځکه چې ددې فيصله به ډاکټر کوي چې ايا تاسې دې په دغه سپورټ کې برخه واخلئ او که نه.

**آیا B زیری د عفونت څخه د تحفظ په قانون کې شتون لري او که نه - دا څه معنی؟**
د عفونت څخه د تحفظ قانون په ځینې داسي امراضو کوې تطبیقیږي چې د سرایت خطر پکي شتون ولري، لکه د B زیړي خپریدل ډیرو خلکو ته.
که چیرې تاسي په B زیړي باندې اخته یاست نو د وړیا درملني حق لرئ.
تاسي باید د کړنې هغه قوانین چې د ډاکټر له لوري تاسي ته توصیه شوي، تعقیب کړئ. او سره له دې باید چې د عفونت په څارلو کې هم مرسته وکړئ. د کړنې هغه قوانین چې تاسي ته درکړل شوي او ستاسو په فکر هغه سم نه دي نو کولی شئ په دې هکله د کمون په شورا کې د عفونت له ډاکټر سره اړیکه ټینګه کړئ. مخکې له دې چې دا ټول معاینات تکمیل شي، باید چې درکړل شوي قوانین مراعت کړئ.

**د عفونت څارل - دا څه معنی؟**
دا ډیره اړینه ده هغه کسان چې په B زیړي اخته دي ولټول شي، تر څو د هغو د ځیګر معاینات تر سره شي او مرض یې نورو ته سرایت ونکړي. که چیرې تاسي په B زیړي اخته یاست نو باید چې خپل ډاکټر ته دا په ډاګه کړئ چې له چا سره مو جنسي اړیکه ټینګه کړې او یا دا چې بل مو په کوم بل شکل د سرایت خطر سره مواجه کړی (لکه د پیچکاری او یا ستنې مو په شریکه توګه استفاده کړې وي)، تر څو دغه نوموړي کسان په ځان پوه شي او د B زیړي لپاره معاینه شي. ستاسي هره خبره به محرمانه ساتل کیږي، او د هر کس په اړه چې تاسي راپور راکوئ هغه به نه خبریږي چې تاسي څوک یاست.
ستاسي ډاکټر به دا هم ګوري چې په سویډن کې داخل ستاسي فامیل او خویندې ورونه څخه د B زیړي معاینات اخیستل شوي دي.

**آیا غواړئ چې نور هم معلومات ترلاسه کړئ؟**
د B زیړي په اړه نور معلومات په لاندینیو پاڼو کې شتون لري.
www.1177.se
www.umo.se
www.folkhalsomyndigheten.se